د افغانستان بانک

Download from:aghalibrary.com

# په افغانستان کې د ډالري اقتصاد مسئلې او اندېښنې

- په افغانستان کې ډالري اقتصاد
- د غیر رسمي ډالري اقتصاد ګټې او زیانونه
- د ډالري اقتصاد اړوند لګښتونه

**د افغانستان بانک**

د پولي سیاست لوی آمریت

د اقتصادي څېړنې برخه

څېړنه: خالد معراج او مرتضی مظفري

د پښتو ژباړه او د ډیزاین چارې: د ریاست د دفتر لوی آمریت

## د محتویاتو لړلیك


لنډیز ........ الف

سریزه ........ ۱

د ډالري اقتصاد تعریف او ډولونه ........ ۳

په افغانستان کې د غیر رسمي ډالري اقتصاد بدلونونه او اړکلونه ........ ۵

په ګردښت کې د اسعارو د کچې اټکل ........ ۵

په افغانستان کې ډالري اقتصاد ........ ۶

د غیر رسمي ډالري اقتصاد ګټې او زیانونه ........ ۱۱

د ډالري اقتصاد اړوند لګښتونه ........ ۱۱

د پولي ضریب د عوایدو خسارې ........ ۱۴

د ډالري اقتصاد ګټې ........ ۱۶

پایله ........ ۲۰

**لنډيز**

په تېرو څو کلونو کې د انفلاسيون له نسبتاً ټيټ نرخ او د افغانستان بانک د خپلواکه کېدو په برخه کې له پرمختګونو سره سره بيا هم په افغانستان کې د ډالري اقتصاد کچه لوړه وه. دا څېړنيز سند د ډالري اقتصاد د بېلابېلو برخو په تعريفولو سره پيلېږي او په ترتيب سره په افغانستان کې د ډالري اقتصاد د بهير واقعيتونه تر بحث لاندې نيسي. همدا ډول د دې سند اصلي منځپانګه په هېواد کې د ډالري اقتصاد پر ګټو او زيانونو تمرکز کوي او ترڅنګ يې د بانکنوټونو د چاپ او خپرولو په انحصاري حق او له اقتصادي وضعيت سره سم د پيسو د مطابقت او همدا ډول د وروستۍ مرجع په توګه د مرکزي بانک د رول له لاسه ورکولو باندې د ډالري اقتصاد اغيزې رانغاړي. په ورته وخت کې د دې سند له لارې مو هڅه کړې څو په هېواد کې د ډالري اقتصاد د پديدو او د هېواد پر اقتصادي ټيکاو باندې د ډالرو د لنډمهاله او اوږدمهاله اغېزو په اړه مطرح شوې پوښتنې ځواب کړو. په پای کې، د ډالري اقتصاد د اړوندو ستونزو د له منځه وړلو په موخه پاليلې د ځينو پاليسيو د سپارښتنو په وړاندې کولو سره پای ته رسوو. د يادولو وړ ده چې دا څېړنه مو په ټوله نړۍ کې د څېزنيزو څېړنو او د ورته قضيو د مطالعاتو پر بنسټ ترسره کړې ده.

**سریزه**

د تېرو څو لسیزو په اوږدو کې ډالري اقتصاد، د افغانستان بانک پولي سیاست لپاره یوه جدي ننګونه ده. په بانکي سکتور کې د پام وړ پرمختګونو او همدا ډول د انفلاسیون له نسبتاً ټیټ او ثابته نرخ سره سره بیا هم د افغانستان اقتصاد په زیاته کچه ډالري شوی دی. همدا ډول د هېواد دننه په ګردښت کې د کورنیو پیسو (افغانۍ) په پرتله د بهرنیو اسعارو کچه زیاته ده. په ورته وخت کې د هېواد په ډېرو سیمو کې افغانان په لوړه کچه سپماوې او پور اخیستنې او همدا ډول ډېری سترې معاملې په امریکایي ډالرو ترسره کیږي. سره له دې چې امریکایي ډالر زموږ د هېواد دودیزې (مروجې) پیسې نه دي خو بیا هم د هېواد د ملي پیسو (افغانۍ) ترڅنګ مهم رول لوبوي. د هېواد په سرحدونو کې د افغانۍ او امریکایي ډالرو ترڅنګ پاکستانۍ روپۍ او ایراني تومان هم کارول کیږي. له همدې امله، د هېواد په اقتصادي کړنو کې د بهرنیو اسعارو په ځانګړې توګه د امریکایي ډالرو پراخه کارونې د افغانستان بانک د پولي سیاست لپاره ډېرې اندېښنې پیدا کړي دي چې دا اندېښنې د مبادلې د نرخ نوسانونه، د مبادلې د بازار بې ثباتي او همدا ډول د ځینو اقتصادي فعالانو لخوا په ملي پیسې باندې د اعتماد کموالی رانغاړي.

د هېواد د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د بهرنیو اسعارو د امانتونو ونډه د پام وړ زیاته شوې ده چې په ۲۰۰۶ زیږدیز کال کې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو شاوخوا ۸۳ سلنه ( ۲۷،۷۳۳ میلیونه افغانۍ) جوړوي. د ۲۰۰۶ او ۲۰۱۵ کلونو ترمنځ په ټولیزه امانتونو کې د اسعاري امانتونو ونډه د یو لړ نوسانونو له امله د ۲۰۱۵ کال په اپریل میاشت کې ۶۶ سلنې ته راکمه شوې ده. په ټولیزه امانتونو کې د ډالري امانتونو د کچې له پام وړ کموالي سره سره بیا هم افغانستان د نړیوالو سنجشونو او راپورونو پر بنسټ یو ستر ډالري اقتصاد ګڼل کیږي.

همدا ډول په هېواد کې د بهرنیو اسعارو د امانتونو د لوړې کچې ترڅنګ د هېواد دننه ځینې سوداګریزې ادارې او کورنۍ په راکړه او ورکړه کې د افغانۍ په پرتله اسعارو په

ځانګړې توګه امریکایي ډالرو ته ترجیح ورکوي. له بهرنیو اسعارو څخه د مبادلې د وسیلې په توګه ډیری په ښاري سیمو کې د خدمتونو په سکتورونو لکه؛ د ملکیتونو (ځمکو او ودانیو)، ښوونې او روزنې، روغتیایي خدمتونو او د لوړ ارزښت لرونکو وارداتي توکو لکه؛ کمپیوټرونو او موټرونو د پېر او پلور په موخه کار اخیستل کیږي. سره له دې چې د هر اړخیزو او کره شمېرو نه شتون د ډالري معاملو د کچې اټکل ستونزمن کړی دی خو اوس هم په هېواد کې د مبادلې د وسیلې په توګه له امریکایي ډالرو څخه په زیاته اندازه کار اخیستل کیږي.

په هېواد کې د پراخه ډالري اقتصاد ترڅنګ په راکړه او ورکړه کې د امریکایي ډالرو زیاتې کارونې؛ پالیسی جوړونکو او د پولي سیاست کارکوونکو ته یو لړ اندیښنې راولاړې کړې دي.

د کورني اقتصاد د ډالري وضعیت په اړه د پالیسی جوړوونکو اندیښنې د واقعیتونو پر بنسټ ولاړې دي او دواړه تیوریکي او عملي تجربې رانغاړي. همدا ډول دا مسئله د مالي نظام ثبات د پالیسی جوړوونکو تر ټولو مهمه اندیښنه ګڼل کیږي. یو بشپړ ډالري اقتصاد دوه ډوله ستر خطرونه (د نقدینګۍ خطر او د پور د بیرته ورکړې خطر) تر شاه لري. په یو هېواد کې د ډالرو لوړه کچه د بانکنوټونو د چاپیدو له امله د دولت د عوایدو خساره (Seigniorage) هم له ځانه سره لري. سربېره پر دې، ډالري اقتصاد هغو مرکزي بانکونو ته چې غواړي انفلاسیون د پولي هدف له لارې کنټرول کړي، ستونزې پیدا کوي. د دې ترڅنګ، ډالري اقتصاد بهرنیو اسعارو لپاره تقاضا ډېروي او په پایله کې د هېواد د ملي پیسو (افغانۍ) پر ارزښت باندې منفي فشارونه زیاتوي.

د هېواد دننه په اقتصادي معاملو کې د ډالرو پراخه کارونې او په دې وروستیو کې د افغانۍ د ارزښت ټیټیدنې د پولي سیاست د چارواکو او د پالیسۍ جوړونکو اندیښنې زیاتې کړې دي. په دې څیړنیز سند کې مو هڅه کړې څو په هېواد کې د ډالري اقتصاد د پدیدو

ترڅنګ د هېواد په اقتصادي ټيکاو باندې د هغه د لنډ مهاله او اوږد مهاله اغېزو په اړه مطرح شوې پوښتنې ځواب کړو. په پای کې د ډالري اقتصاد د اړوندو ستونزو او اندېښنو د له منځه وړلو په موخه خپلې لاسته راوړنې د افغانستان بانک پولي سياست ته د ځينو پاليسيو د سپارښتنو په وړاندې کولو سره پای ته رسوو.

**د ډالري اقتصاد تعريف او ډولونه**

ډالري اقتصاد، په رسمي يا غير رسمي توګه د معاملو ترسره کولو او د هېوادوالو لخوا د شتمنيو د ساتلو په موخه د افغانۍ پر ځای د بهرني اسعارو کارولو ته وايي. ارتز (Ortiz) په ۱۹۸۳ کال کې ډالري اقتصاد داسې تعريفوي کله چې د يو هېواد حقيقي او مالي معاملې د هغه هېواد د ملي پيسو پر ځای په ډالرو ترسره شي، ډالري اقتصاد ګڼل کيږي. دې تعريف ډالري اقتصاد په دريو کټګوريو رسمي، نيمايي رسمي او غير رسمي ډالري اقتصاد باندې ويشلی دی.

**رسمي ډالري اقتصاد** هغه اقتصاد ته وايي چې په کې ملي پيسې په رسمي توګه په بهرنيو اسعارو مبادله شي په دا ډول ډالري اقتصاد کې بهرني اسعار د يو هېواد د ملي پيسو رول لوبوي او په قانوني ډول د مبادلې د وسيلې، د ارزښت د زېرمې او د هېواد د حسابونو د واحد په توګه کارول کيږي. پيرو، ايلسلوادور او ايکوادور هغه هېوادونه دي چې په رسمي توګه ډالري اقتصاد کاروي.

**نيمايي رسمي ډالري اقتصاد** هغه اقتصاد ته ويل کيږي چې په يو هېواد کې دواړه رايجې پيسې او بهرني اسعار د پولي واحد په توګه وکارول شي او له دواړو پيسو څخه د مبادلې د وسيلې، د ارزښت د زيرمه کولو او د حساب د واحد په توګه کار اخيستل کيږي. ليسوتو او سوازيلند هغه دوه افريقايي هېوادونه دي چې د سويلي افريقا پولي واحد يې د خپلو پولي واحدونو ترڅنګ د قانوني پولي واحد په توګه منلی دی. کومو هېوادونو چې رسمي يا نيمه رسمي ډالري اقتصاد منلی، ډېری يې هغه کوچني هېوادونه دي چې لوړ انفلاسيون، د

اسعارو د مبادلې نوسانونه او بې ثباته لوی اقتصاد لري. دا ډول هېوادونه د شدیده انفلاسیون د کنټرولولو او د لوی اقتصاد د ثبات لپاره رسمي یا نیمه رسمي ډالري اقتصاد غوره کوي.

د ډالري اقتصاد دریم ډول غیر رسمي ډالري اقتصاد دی چې په دې اقتصاد کې پیسې په پراخه پیمانه د بهرنیو اسعارو د مبادلې د وسیلې، د محاسبې د واحد او د ارزښت د زیرمې په توګه کارول کیږي، حال دا چې یاد هېواد د خپل پولي واحد لرونکی هم دی. غیر رسمي ډالري اقتصاد یا نیمه رسمي ډالري اقتصاد د نړۍ په یو شمېر هېوادونو کې دود شوی دی. ډېری دې هېوادونو لکه افغانستان د لوړ انفلاسیون او بې ثباته اقتصادي دوره تجربه کړې ده چې دې بهیر پر ملي پیسې باندې د خلکو اعتماد په ژوره توګه اغیزمن کړی دی.

د پیسو د درې واړه دندو په پام کې نیولو سره، غیر رسمي ډالري اقتصاد په دریو نورو فرعي برخو وېشل کیږي: (۱) ډالري معاملې چې په معاملو کې په پراخه کچه د اسعارو کارونې ته ویل کیږي؛ (۲) مالي ډالري اقتصاد چې د شتمنۍ د تعویض په نوم هم یادیږي، د ارزښت د زېرمې په توګه د بهرنیو اسعارو کارونې ته نغوته کوي او (۳) حقیقي ډالري اقتصاد چې په بهرنیو اسعارو د بیو د شاخص او معاشونو ټاکلو ته ویل کیږي.

د پورته تعریفونو په پام کې نیولو سره دې پایلې ته رسیږو چې افغانستان د غیر رسمي ډالري اقتصاد لرونکو هېوادونو په ډله کې راځي. سره له دې چې افغانۍ د هېواد قانوني پیسې دي، خو بیا هم ځیني بهرني اسعار په ځانګړې توګه امریکایي ډالر په پراخه کچه د سوداګریزو ادارو او کورنیو لخوا د مبادلې د وسیلې او د ارزښت د زیرمه کولو په توګه کارول کیږي. د هېواد په بانکي نظام کې په پراخه کچه د بهرنیو اسعارو د امانتونو شتونتیا د دې واقعیت ثبوت دی.

**په افغانستان کې د غیر رسمي ډالري اقتصاد بدلونونه او اټکلونه**

د غیر رسمي ډالري اقتصاد اټکل:

د یو هېواد د اوسیدونکو لخوا د ساتل شویو بهرنیو اسعارو ټولیزه ونډه د همدې هېواد د ډالري اقتصاد څرنګوالی بیانوي. په کورني بانکي نظام کې اسعاري امانتونه او په ګردښت کې اسعار د بهرنیو اسعارو ټولیزه ونډه جوړوي. د ملي پیسو د امانتونو په وړاندې د بهرنیو اسعارو د امانتونو نسبت، د ټولیزه کورنیو امانتونو په وړاندې د بهرنیو اسعارو د امانتونو نسبت او د ملي پیسو د عرضې په وړاندې د بهرنیو اسعارو د امانتونو نسبت، هغه نسبتونه دي چې د ډالري اقتصاد د سنجش په موخه کارول کیږي.

د اسعاري امانتونو ترڅنګ، زموږ یو شمېر داخلي سوداګر او کورنۍ د خپلو شتمنیو یوه ستره برخه په اسعاري امانتونو په ځانګړې توګه په امریکایي ډالرو ساتي. د اسعاري امانتونو سنجش اسانه خو له خلکو سره د نغدي اسعارو د مبلغ سنجول ستونزمن کار دی. د سنجش په پروسه کې له ستونزو سره سره؛ ځینې غیر مستقیمه طریقې شته چې په مرسته یې په یو هېواد کې په ګردښت کې د اسعارو کچه سنجول کیدای شي. په ګردښت کې د اسعارو د ونډې د اټکلولو په موخه موږ په افغانستان کې ارسمس(Erasmus)، لایکټر (Leichter) او مینکلیزي (Menkulasi) وړاندیز شوې طریقې درې واړو په ګډه د لبریا د ډالري اقتصاد په هکله طرحه کړې وې، کاروو. په ګردښت کې د اسعارو د اټکل په موخه نوموړو د پیسو د عرضې بهیر وکاروه او د ملي پیسو او اسعارو لپاره یې یو ورته پولي ضریب په پام کې ونیوه. دا چې د ملي پیسو او اسعارو لپاره د ورته پولي ضریب د فرضیې ټاکل په ګردښت کې د اسعارو د ونډې د اټکلولو په برخه کې مهم رول لوبوي، له همدې امله د پایلو کره والی یې په ډېر احتمال سره د دې فرضیې په معقولیت پورې اړه لري.

**په ګردښت کې د اسعارو د کچې اټکل**

له هغه ځایه چې د افغانستان اقتصاد د نغدو معاملو پر بنسټ ولاړ دی، نو ځکه په ګردښت

کې د اسعار کچه هم زیاته ده. د ډالري اقتصاد د سم اټکل په موخه مونږ باید په ګردښت کې د اسعارو د کچې سنجش په پام کې ونیسو. په دې څیړنیز سند کې مونږ د ارسمس (Erasmus) او د هغه د یو شمېر نورو لارویانو طریقه چې د لیبریا په هېواد کې یې ترسره کړې ده، کاروو. د ملي پیسو او بهرنیو اسعارو لپاره د ورته پولي ضریب فرضیه چې د دې طریقې د ملا تیر ګڼل کیږي، د افغانستان د اقتصاد په برخه کې هم معقوله فرضیه ګڼل کیږي. مونږ د دې موضوع د څیړلو لپاره دوه دلیلونه: یو یې لږ پرمختللی بانکي نظام او بل یې د افغانۍ او اسعاري امانتونو لپاره د الزامي زیرمې ورته نسبتونه په پام کې نیسو.

د هېواد په بانکي نظام کې د شته امانتونو د ټولیزه ارزښت په اړه د معلوماتو او د پیسو د ۱.۲۵ ضریب په کارولو سره مونږ د ۲۰۰۲ کال له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۵ کال تر اپریل پورې په ګردښت کې د اسعارو ټولیزه ارزښت د ۴۷۶ میلیارده افغانۍ معادل اټکل کړی دی. حال دا چې دا اټکل په ګردښت کې د اسعارو یو ستر مبلغ ښکاره کوي چې دا مبلغ کولای شو په هېواد کې په ګردښت کې د اسعارو تر ټولو لوړ مبلغ په ګوته کړو. (ملپاڼه وګورئ)

**په افغانستان کې ډالري اقتصاد**

افغانستان د یو کوچني ازاد اقتصاد لرونکی او په پراخه کچه پر وارداتو متکي هېواد دی. که څه هم افغانستان په تېره لسیزه کې یو شمېر پرمختګونه تجربه کړي خو لا تر اوسه یې د دوامداره اقتصادي ودې لپاره اړینې سرچینې موندلي نه دي. همدا ډول د هېواد کورني ناخالصه تولیدات شاوخوا ۲۰ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي چې له امله یې زمونږ هېواد له شدیده مالي او سوداګریزه کسر سره مخ شوی دی. د ټولو اقتصادي ننګونو سره سره بیا هم افغانستان له ډالري اقتصاد څخه چې د لوی اقتصاد د ثبات په لاره کې یو ستر خنډ ګڼل کیږي، کار اخلي.


زمونږ په هېواد کې ډالري اقتصاد د کورنیو جګړو پر مهال د پام وړ تیزوالی وموند. د ۱۹۹۰

لسیزې په وروستیو کې یو شمېر سیاسي ګوندونو د خپلو لګښتونو د تمویل لپاره شخصي بانکنوټونه په پراخه کچه چاپ کړ او بازار ته یې وړاندې کړل چې له امله یې د انفلاسیون نرخ د پام وړ زیات شؤ. په همدې ترتیب هغه مهال، د افغانۍ ترڅنګ د پاکستانۍ روپۍ او ایراني تومان په ګډون یو شمېر نور اسعار هم په پراخه کچه د مبادلې د وسیلې په توګه کارول کېدل. د تقاضا په برخه کې لېږه ډاډمنتیا او بیلابیلو سیاسي ګوندونو ته پریمانه مرستو په هېواد کې د ډالري اقتصاد د چټکتیا لپاره لاره هواره کړه. د یادولو وړ ده چې د کورنیو جګړو پرمهال د مالي او بانکي نظام نه شتون هم د ډالري اقتصاد په غوړیدا کې د پام وړ ونډه درلودلې ده. که څه هم د کورنیو جګړو په پای کې ډالري اقتصاد پیاوړی شوی ؤ خو د بیارغونې د پروسې لپاره د نړیوالو پریمانه مرستو او له بهره څخه د افغان کډوالو د راستنیدلو له امله د بهرنیو اسعارو د امانتونو کچه په بې سارې توګه لوړه او ډالري اقتصاد لا ډېر پیاوړی شو. سره له دې چې په ۲۰۰۲ کال کې د افغانستان بانک د افغانۍ د نوي بانکنوټونو په وړاندې کولو سره ونتوانید چې په هېواد کې ډالري اقتصاد مهار کړي، خو د نوي بانکنوټونو په چاپولو سره پر ملي پیسو د خلکو لږ څه اعتماد پیدا شو.


په افغانستان کې ډالري اقتصاد د ۲۰۰۶ کال په اپریل میاشت کې تر ټولو لوړ نرخ یعنې ۸۱.۰۹ سلنې ته پورته شوی دی. دا اټکل د هېواد په ټولیزه بانکي امانتونو کې د بهرنیو اسعارو د امانتونو د سلنې له مخې ترسره شوی دی. همدا ډول ډالري اقتصاد په هېواد کې له یو لړ نوسانونو وروسته په ۲۰۰۹ کال کې خپل تر ټولو ټیټې کچې ۶۲.۲۷ سلنې ته راښکته شوی. په همدې ترتیب ډالري اقتصاد د انفلاسیون د لوړ نرخ، د پیسو د ارزښت د کمېدو، د بانکونو لخوا د ځینو بې غوریو او داسې نورو مهمو اقتصادي نا ډاډمنتیاوو له امله له ۲۰۰۹ کال څخه وروسته کلونو کې یو ځل بیا پیاوړی شو. د ۲۰۱۵ کال د اپریل میاشتې راهیسې په هېواد کې د ډالري اقتصاد نسبت ۶۵.۹۳ سلنې ته رسیږي. نو ویلی شو چې امریکایي ډالر د افغانۍ ترڅنګ په یو غیر رسمي پولي واحد بدل شوی دی. له همدې امله په افغانستان

کې یو شمېر اسعار په ازاده توګه په ګردښت کې دي چې حتی امریکایي ډالر د یوې واکمنې پیسې په توګه کارول کیږي چې د هېواد د دودیزه پیسو (افغانۍ) رول ته یې زیان رسولی دی. د هېواد د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د اسعاري امانتونو کچه ډېره لوړه ده، حال دا چې د افغانۍ کارونه ډېره لږه یا محدوده ده. یوازې دولتي ادارې په هېواد کې له افغانۍ څخه د بودجې د اجراء او د مالیو او د دولتي کارکوونکو د معاشونو د ورکړې په موخه ګټه پورته کوي.

د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د اسعاري امانتونو د سلنې ونډه





په افغانستان کې د بانکي نظام له ټولیزه امانتونو سره د مېشته اشخاصو د اسعاري امانتونو پرتله




بالینو (Balino) او د هغه وخت نورو پوهانو په ۱۹۹۹ زیږدیز کال کې پراخه ډالري اقتصاد لرونکي هېوادونه داسې تعریف کړي: پراخه ډالري اقتصاد لرونکي هېوادونه هغه هېوادونه دي چې په اسعارو د امانتونو نسبت یې د ټولیزه امانتونو له ۳۰ سلنې څخه زیات وي. د دې تعریف پر بنسټ افغانستان هم د اسعاري امانتونو د۶۵.۹۳ سلنه نسبت په درلودلو سره د پراخه ډالري شوي اقتصاد په توګه پېژندل کیږي.

په هېواد کې د ډالري اقتصاد عمده لاملونه اقتصادي او سیاسي بی ثباتي، د افغانۍ او اسعارو (امریکایي ډالر) ترمنځ انفلاسیوني توپیر او د بهرنیو اسعارو د اخیستلو لپاره د معاملې نسبتاً ټیټ لګښتونه په ګوته شوي دي. همدا ډول په هېواد کې ډالري اقتصاد هغه مهال پراخوالی وموند کله چې هېوادوالو د ملي پیسو د ساتنې د لوړ لګښت له امله د هغه ساتلو ته زړه نه ښه کاوه.

د انفلاسیون نرخ په تېرو څو کلونو کې نسبتاً ټیټ ؤ، خو بیا هم په هېواد کې د ډالري اقتصاد کچه لوړه ده. په هېواد کې د انفلاسیون او د ډالري اقتصاد ترمنځ د اړیکو هر اړخیزه شننه او د دواړو متحولینو ترمنځ کمزوره اړیکې په لاندې ګراف کې ښکاره کیږي. په لاندې ګراف کې د انفلاسیون نرخ د ۲۰۰۶ کال په اپریل میاشت کې ۳.۵۹ سلنه او د ډالري اقتصاد کچه چې په همدې موده کې تر ټولو لوړې کچې ته رسیدلې وه، ۸۲.۹۳ سلنه ښودل شوې ده. حال دا چې په راتلونکي کال کې د انفلاسیون نرخ زیات او په هېواد کې د ډالري اقتصاد بهیر راکم شوی دی. په ورته وخت کې د ۲۰۰۹ کال په لومړیو کې دواړو (د انفلاسیون نرخ او د ډالري اقتصاد بهیر) سقوط وکړ او خپل تر ټولو ټیټې کچې ته ورسېدل چې د انفلاسیون نرخ د ډالري اقتصاد د کچې په پرتله ډېر ټیټوالی وموند. د ۲۰۰۹ کال راپدېخوا د انفلاسیون نرخ او ډالري اقتصاد دواړو نسبتاً ورته بهیر درلودلی دی. شته شمېرې ښکاره کوي چې په هېواد کې د ډالري اقتصاد او انفلاسیون ترمنځ اړیکه ۰.۳۶۱ ته رسیږي چې دا شمېره ډېره ټیټه ګڼل کیږي.




د ۱۹۹۸ او ۲۰۰۳ کلونو ترمنځ ځینې اقتصاد پوهان د بېلګې په توګه ایزي (Ize) او لیوي (Levy) استدلال کوي چې خطر نه منونکي پور اخیستونکي او پور ورکوونکي په بهرنیو اسعارو خپلو تړونونو ته لومړیتوب ورکوي، دا ځکه چې د اسعارو د پېرلو ځواک د کورنۍ پیسو په پرتله ښه وي، له همدې امله په ډالري اقتصاد کې د مبادلې د نرخ نوسانونه یو عمده لامل ګڼل کیږي. باید ووایو چې زمونږه پایلې بېلابېل اړخونه لري. یو یې دا دی چې په هېواد کې د مبادلې د نرخ نوسانانونه د ډالري اقتصاد بنسټیز لامل نه دی. زمونږ د شننو پر بنسټ، د ډالري اقتصاد او د مبادلې نرخ ترمنځ دوه اړخیزه اړیکه د تمې سره سم منفي( ۰.۰۹-) ده، چې هومره د پام وړ نه ده.



**د غیر رسمي ډالري اقتصاد ګټې او زیانونه**

د څېړنیز سند دا برخه د څېړنیزو موادو او منځپانګې د پایلو او مطالعاتو په پام کې نیولو سره د ډالري اقتصاد زیانونه او په هېواد کې د دې پدیدې اړوندې ننګونې تر بحث لاندې نیسي. د ډالري اقتصاد اړوند باالقوه اقتصادي لګښتونه په لاندې ډول دي.

**د ډالري اقتصاد اړوند لګښتونه**

**د اسعارو نه مطابقت:** هغه اقتصادونه چې په پراخه کچه ډالري شوي دي د پوراینې د بیا ورکړې او د نقدینګۍ له خطرونو سره مخ کېږي چې دا وضعیت د مبادلې نرخ د نوسانونو له امله د مالي نظام د بې ثباتۍ په پایله کې رامنځ ته کېږي. کله چې یو بشپړ ډالري شوی اقتصاد له یو داسې بې ثباتۍ سره مخ شي چې د بانکي نظام د اړوند خطرونو په اړه اندېښنې پیدا کړي، نو په دې ډول حالاتو کې په کورني پیسو د اسمي شتمنیو لپاره تقاضا او د کورني پیسې ارزښت راکمیږي.

**د نقدینګۍ خطر:** په ډالري اقتصاد کې د بانکي نظام د امانتونو ستره برخه بهرني اسعار جوړوي. هر څومره چې د بانکونو لخوا کورنیو او داخلي سوداګریو ته په بهرنیو اسعارو پورونه ورکړل شي، په هماغه اندازه بانکي نظام د نقدینګۍ له خطر سره چې د مبادلې نرخ د نوسانونو په پایله کې رامنځ ته کېږي، مخ کیږي. د ملي پیسو د ارزښت د پام وړ کموالی د هغو کورنیو او داخلي سوداګریو پر مالي وضعیت چې عواید یې په کورنیو پیسو او پورونه یې په بهرنیو اسعارو ترسره کېږي، فشار راوړي چې د دغې مودې په پایله کې په اسعارو د ورکړل شویو پورونو د بېرته ورکړې ځواک کم او د بانکي نظام مالي وضعیت کمزوری کیږي.

**د پوراینو د نه ورکړې خطر:** د نقدینه ګۍ خطر ته ورته د اسعارو د ناجوړښت (ناتطابق) عمده لامل په یو ډالري اقتصاد کې د پوراینې د نه ورکړې خطر په ګوته شوی دی. د کورنیو پیسو د ارزښت په کموالي سره د بانکونو بیلانس شیټ له دوو اړخونو اغېزمن


(۱) مونږ په دې سند کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې له نرخ څخه د بیلګې په توګه کار اخیستی دی.


کېږي: لومړی، په ملي پیسو د شتمنیو پر ارزښت چې د بانکونو په بیلانس شیټونو کې ساتل کېږي، منفي اغیز کوي. دویم، د هغو پور اخیستونکو مالي وضعیت چې خپل عاید په ملي پیسو ترلاسه کوي، کمزوره کوي او په بهرنیو اسعارو د پورونو د بېرته نه ورکړې احتمال یې زیاتوي.

د کورنیو بانکونو مالي صورت حسابونه ښکاره کوي چې د هېواد د بانکي نظام سیالیت په ښه وضعیت کې قرار لري. اسعاري پوراینې د بانکي نظام د ټولیزه اسعاري امانتونو شاوخوا ۲۰ سلنه جوړوي. د نقدینه ګۍ دا ډول لوړه کچه د هر ډول نه وړاند ویل شوي ټکان په وړاندې چې د امانتونو د نه ورکړې په برخه کې د بانکونو د نه توانایي لامل کېږي، یوه ښه اتکاء جوړوي. سربېره پر دې، د مرکزي بانک د اسعاري زیرمو په پام کې نیولو او د بانکي نظام په اسعارو د نومول شویو پوراینو له ټولیزه ارزښت سره د هغه په پرتله کولو سره مرکزي بانک کولای شي چې له بانکي نظام سره د هر ډول شوني کړکیچ په صورت کې د پور ورکونې د وروستۍ مرجع په توګه همکاري وکړي او د هغوی د نقدینګۍ خطر له منځه یوسي. د بانکي نظام د نقدینه ګۍ خطر او په افغانستان کې د اقتصادي او مالي ټکانونو خطر کولای شي اوسنی ثابت وضعیت په نامطلوب وضعیت بدل کړي، نو له همدې امله په اسعارو د امانتونو د اړونده نقدینه ګۍ د خطرونو د کنټرولولو لپاره د احتیاطي پالیسیو جوړول ډېر اړین ګڼل کېږي.

برعکس، د نقدینه ګۍ خطر ( پور د بیرته نه ورکړې خطر) د بانکي نظام لپاره یو نسبتاً جدي خطر دی. کوم پور اخیستونکي چې عاید په ملي پیسو او پورونه په بهرنیو اسعارو ترسره کوي، د مبادلې د نرخ له نوسانونو څخه زیانمن کېږي. که چیرته د بهرنیو اسعارو د ټولیزه امانتونو یوازې ۲۰ سلنه په پور ورکړل شوي وي، د بانکي نظام لپاره د پور د نه ورکړې خطر هومره جدي نه ګڼل کېږي. د مبادلې د نرخ نامطلوبه نوسانونه، د هېواد په بانکي نظام کې د مشتریانو د اعتباري سابقې د کتلو لپاره د اعتماد وړ تدبیرونو او د

مشتریانو لخوا د وړاندې شویو تضمینونو لپاره د معیاري شرایطو نشتوالی لامل شوی چې په بانکي نظام کې د پور د بېرته نه ورکړې خطر زیات شي چې د دې وضعیت د کنټرولولو لپاره د هېواد د مرکزي بانک نږدې څارنې ته اړتیا لیدل کیږي.



**د پولي ضریب د عوایدو خسارې**

پولي ضریب د اسمي ارزښت او د چاپ د لګښت ترمنځ توپیر ته وايي. په غیر رسمي ډالري (قسمي ډالري) اقتصاد کې د دولت عواید د ملی پیسو (افغانۍ) د انواعیو د چاپ له امله هغه مهال راکمیږي چې د دې هېواد اوسیدونکي له بهرنیو اسعارو څخه د مبادلې د وسیلې په توګه کار واخلي. د پیسو لپاره د تقاضا د کچې په زیاتیدو سره په ډالري اقتصادونو کې د پولي ضریب عواید د پام وړ کموالی مومي. په پایله کې کولای شو ووایو چې د پولي ضریب د عوایدو خسارې د ډالري اقتصاد د سترو لګښتونو په ډله کې راځي.

مونږ د ارسمس (Erasmus)، لایکټر (Leichter) او مینکلیزي (Menkulasi) لخوا د وړاندې شوي طریقو په مرسته په ګردښت کې د اسعارو ونډه اټکل کړې ده. د ملي پیسې او بهرنیو اسعارو لپاره د ۱.۲۵ ورته پولي ضریب په ټاکلو سره مونږ شاوخوا ۴۷۶ میلیارده افغانیو اټکل کړی دی (د یادولو ده چې دا شمېره یوازې د ۲۰۰۲ او ۲۰۱۵ کلونو ترمنځ په ګردښت کې د اسعارو د لوړې ونډې اټکل ښکاره کوي). په ګردښت کې د بهرنیو اسعارو د کچې د اټکل په پام کې نیولو سره زمونږ بل اټکل دا ښکاره کوي چې د بانکنوټونو د چاپ د عوایدو خساره د ۴۶۰ میلیارده افغانۍ معادل ده (د بانکنوټونو د چاپ د عوایدو د خسارې د اټکل د هر اړخیزې کړنلارې لپاره ملپاڼې ته مراجعه وکړئ).

**د پور ورکولو د وروستۍ مرجع په توګه د رول د بایللو خطر:** د پور ورکړې د وروستۍ مرجع په توګه مرکزي بانک هڅه کوي څو د مشتریانو د امانتونو د ډله ییزه هجوم د کنټرولولو لپاره له هغو بانکونو سره مرسته وکړي چې د نغدو پیسو له کمښت سره مخ شوي دي. له هغه ځایه چې په نیمايي ډالري اقتصادونو کې مرکزي بانکونه د بهرنیو اسعارو د چاپولو قانوني واک نه لري، خو د مالي کړکیچ پر مهال د بانکي نظام په وړاندې په مطلقه توګه د پور ورکړې د وروستۍ مرجع په توګه د خپل ظرفیت یوه برخه له لاسه ورکوي. اسعاري امانتونه په بانکي نظام کې د شته ټولیزه امانتونو ۶۵.۹۳ سلنه جوړوي چې

د ۱۳۶.۵۲۱ میلیارده افغانی (معادل یې ۲.۲۷۵ میلیارده امریکایي ډالرو) ته رسیږي. له نغدي کمښت سره د مخ شویو بانکونو د مرستې لپاره د افغانستان بانک توانایي هغه مهال کمزوره کیږي چې اسعاري امانتونه په ډله ییزه توګه له بانکونو څخه وویستل شي او همدا ډول د ۶.۷ میلیارده امریکایي ډالرو په ارزښت د اسعاري زیرمو له امله د پور ورکړې د وروستي مرجع په توګه د افغانستان بانک رول محدوده ساتي.

**د پولي سیاست ناګټورتیا:** د ډالري اقتصاد په اړه نږدې ټول شته معلومات په دې ټینګار کوي چې ډالري اقتصاد د اغېزناکه پولي سیاست په پلې کولو باندې ناوړې اغېزې لري. د څېړنو او معلوماتو له مخې، ډالري اقتصاد د پولي لېږد پر میکانیزم باندې د منفي اغېزو له امله د پولي سیاست اغېزناکتیا زیانمنه کوي.

باید یادونه وشي چې افغانستان د پولي هدف د ټاکلو رژیم تعقیبوي. په دا ډول رژیم کې په ګردښت کې د پیسو کره شمېرې او د یو معقول پولي سیاست د تطبیق لپاره د نورې نقدینه ګی درلودل خورا اړین دي. همدا ډول په یو ډالري اقتصاد کې د پولي سیاست چارواکو لپاره په ګردښت کې د اسعارو محاسبه یا سنجش او د پراخه مفهوم په توګه د پیسو د اسعارو د برخې کنټرول ستونزمنه کوي. له همدې امله د پولي عرضې په تعیینولو کې د پولي سیاست رول راکموي او په پایله کې د پولي سیاست اغېزناکتیا او ګټورتیا په معکوسه توګه زیانمنه کیږي.

په قسمي ډالري اقتصادونو کې د پولي سیاست د تطبیقولو په لاره کې بل خنډ د مبادلې له نرخ څخه کورني بیو ته اسعاري معاوضه ده. په هره کچه چې د انتقالي اغېزو کچه زیاته وي په هماغه اندازه د پولي سیاست لپاره د پولي هدف په مرسته د انفلاسیون د نرخ کنټرول ستونزمن کیږي. له همدې امله کولای شو ووایو په داسې یو شدیده ډالري اقتصاد کې چې د نه پلور وړ توکو او خدمتونو بیې یې په اسعارو باندې ټاکل کیږي، د مبادلې د نرخ اغیزې د ګڼ شمېر توکو له لارې کورني بیو ته لیږدول کیږي چې له امله یې په ډالري

اقتصاد کې د مبادلې د نرخ نوسانونه ډېرې ستونزې راولاړوي.

**په ملي پیسې باندې د مبادلې د ارزښت ټیټیدونکي فشارونه:** په پراخه کچه د معاملو ډالري کېدل (د اسعارو معاوضه) په اقتصاد کې د اسعارو لپاره د تقاضا اود مبادلې په نرخ باندې د فشارونو په زیاتیدو سره ملي پیسې کمزوره کیږي. سربېره پر دې، څېړنې او عملي شواهد ښکاره کوي چې په لوړه کچه د اسعارو مبادله د مبادلې د نرخ نوسانونه زیاتوي. په بل عبارت، هر څومره چې د اسعارو د تعویض کچه زیاته وي، په هماغه کچه به د مبادلې د نرخ نوسانونه لوړ وي (اکسی او نور ۱۹۹۷). همدا ډول د مبادلې د نرخ نوسانونه، د انفلاسیون د نرخ د نوسانونو په زیاتیدو سره په کورني اقتصاد باندې منفي اغېزه کوي چې له امله یې د مبادلې د نرخ خطر زیاتیږي.

**د ډالري اقتصاد ګټې**

نړیواله تجربې ښکاره کوي چې د ډالري اقتصاد د بهیر یوه برخه په بنسټیزه توګه د انفرادي اشخاصو لخوا د خپلو عوایدو د واقعي ارزښت ساتلو په موخه هڅو پورې تړاو لري او د انفرادي اشخاصو د عوایدو د حقیقي ارزښت د ساتلو پر وړاندې تر ټولو ستر ګواښ لوړ انفلاسیون دی. په یو ستر ډالري اقتصاد (افغانستان) کې په اسعارو د امانتونو پرانیستل د پانګې د ثبتې په مهارولو کې مرسته کوي.

په هغه هیوادونو کې چې پر اوسیدونکو یې د بهرنیو اسعارو د حسابونو په پرانیستلو محدودیت یا بندیز لګیدلی وي، د دې هېوادونو اوسیدونکي اړ کیږي څو خپل اسعار "تر توشک لاندې" وساتي او یا یې بهر ته ولیږدوي. د دې استدلال پر بنسټ کولای شو ووایو چې غیر رسمي ډالري اقتصاد د سوداګریو او کورنیو د هڅولو له لارې مالي بازار پیاوړی کوي، په سیمه ایزو بانکونو کې د پورته یادو شویو اشخاصو په اسعارو د ترلاسه شویو عوایدو او شتمنیو له ساتلو او د بانکي نظام د کړنو او عملیاتو د کچې له زیاتیدو سره مرسته کوي.

همدا ډول په یو ډیر ډالري شوي اقتصاد کې مرکزي بانک هېواد والو ته د پور ورکولو د وروستۍ مرجع په توګه خپله وړتیا له لاسه ورکوي. له همدې امله، د افغانستان دولت هڅه کوي څو د بنسټیزو سمونونو د راوستلو له لارې د سیالیو د هڅولو ترڅنګ د څارنې او مقرراتو بهیر پیاوړی او له نړیوالو بانکونو سره د اړیکو د درلودلو لپاره لاره هوار کړي.
زمونږ په هېواد کې د افغانستان بانک د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) په تخنیکي همکارۍ د خصوصي بانکي نظام له تنظیم او څارنیزو چارو څخه په جدي توګه څارنه کوي او حتی د افغانستان بانک د لوی اقتصاد د بې ثباتۍ له امله یې په پانګه ایزو شرایطو باندې جدي مقررات وضع کړي دي. په ورته وخت کې څیړونکي په دې باور دي چې د نړیوالو بانکونو شتون به د هېوادوالو د باور کچه په بانکي نظام باندې لوړه کړې. حال دا چې اوس مهال د ۱۶ شته بانکونو له ډلې څخه ۶ یې بهرني بانکونه دي.
په پراخه کچه د ډالري اقتصاد بله ستره ګټه دا ده چې په افغانستان کې میشت وګړي پر دې برلاسي کوي څو د انفلاسیون او د پیسو د ارزښت د کمیدو پر وړاندې د خپلو شتمنیو ارزښت وساتي. که څه هم انفلاسیون په تیرو څو کلونو کې په نسبي توګه ثبات درلوده، خو افغانۍ (ملي پیسې) د پام وړ کموالی تجربه کړی دی. همدا ډول په بهرنیو اسعارو د امانتونو پرانیستل کولای شي د مبادلې د نرخ خطر کم یا له منځه یوسي او د بهرنیو مستقیمو پانګونو د هڅولو او د لا اقتصادي ودې لپاره فرصتونه برابر کړي.

**سپارښتنه**

دا څیړنیزه مقاله په ډاګه کوي چې په افغانستان کې د ډالري کیدو کچه په دوامداره توګه لوړه شوې ده او لا تر اوسه اړوندې هلې ځلې په دې توانیدلي نه دي چې د ډالري اقتصاد کچه راکمه کړي. څرنګه چې پورته یادونه شوې د ډالري اقتصاد لګښت د ګټې په پرتله د پام وړ زیات دی. له همدې امله مونږ د یوې داسې پالیسۍ د جوړیدو وړاندیز کوو چې ډ ډالرو د له منځه وړلو اقتصادي، مقرراتي او اداري اړخونه تر پوښښ لاندې ونیسي او په

دوامداره توګه په افغانستان کې د ډالرو د له منځه وړلو طرحه عملي کړي.
نړیواله تجربې ښيي چې د ډالري اقتصاد د بهیر بیرته بدلول سخت کار دی او په اغیزناکه توګه د ډالرو د لخ منځه وړلو بهیر اوږد مهاله پروسه ده چې د مطلوبې پایلې لپاره یې څو لسیزې وخت په کار دی. د ډالرو د له منځه وړلو په اړه دا څیړنیزه مقاله په ډاګه کوي هغه هېوادونه چې په جبري توګه خپل ډالري اقتصاد له منځه وړي، ښې تجربې نه لري. په ډېرو مواردو کې په جبري ډول د ډالري اقتصاد د له منځه وړلو پروسه معکوسې پایلې لري او د پانګې د تیښتې انګیزې زیاتوي او د مالي نظام د کمو مداخلو په پایله کې د اقتصادي ودې کچه راکموي.
د یو شمېر هېوادونو له ژورې مطالعې او څیړنې وروسته چې په بریالیتوب سره یې د ډالري اقتصاد بهیر راکم کړی، مونږ دې پایلې ته رسیدلي یو چې د ډالرو د له منځه وړلو اغیزناکه پالیسي له احتیاطي مقرراتو سره یو ځای د کورنیو پیسو د بازار پرمختګ ته اړتیا لري. له احتیاطي مقرراتو څخه زمونږ موخه د پولي سیاست تطبیق په ځانګړې توګه په اسعاري چاپیریال باندې تمرکز او د احتیاطي معیارونو پیاوړتیا ده چې کولای شي له اړوندو خطرونو سره مقابله وکړي، په ورته وخت کې د یو اغیزناکه اسعاري بازار د جوړیدو او پراخیدو موخه د هغو هڅوونکو عواملو محدودول دي چې د ډالري اقتصاد بهیر او د کورنیو پیسو ابزارونه پیاوړي کوي.
احتیاطي مقررات احتیاطي معیاري غوره طریقې او همدا ډول هغه مقررات چې په ډالري شویو اقتصادونو کې د بانك په کچه د اسعارو د نا انډولتیا د حل په موخه پلي کیږي ( لکه د زیرمې د التزامونو د توپیر فعاله مدیریت، د ډالري اقتصاد د خطر د داخلي کولو لپاره د انګیزو د رامنځته کولو په پرخه کې ګامونه د بیلګې په توګه د بهرنیو اسعارو د امانتونو لپاره د زېرمې لوړ التزامونه، جدي کمي محدودیتونه او د مالیې متناسبه سنجش) رانغاړي.
همدا ډول دا احتیاطي طریقې د ډالرو د مداخلې لپاره د انګیزو د کموالي لامل کیږي، خو

د ملي پیسو د مداخلې د هڅونې په برخه کې اغیزناکه ثابتیږي. په لوړه کچه ډالري شوي اقتصادونو کې په بریالیتوب سره د احتیاطي مقرراتو پلي کول د لوی اقتصاد د ثبات د پالیسیو یو تر ټولو مهم اړخ ګڼل کیږي.

په ۲۰۱۰ کال کې د اسکریبانو (Escribano) او ساسو (Saso) د راپور پر بنسټ، د لوی اقتصاد د ثبات پالیسي د انفلاسیون د کمیدو، د انفلاسیون د تمو د پیاوړي کیدو او په دوامداره توګه د کورنیو پیسو د ارزښت د زیاتیدو لامل کیږي. د لاتیني امریکې په لوړه کچه د ډالري شویو هېوادونو لکه؛ بولیویا، پاراګوای، پیرو او یوروګوای د ډالري کیدو بهیر په ۲۰۰۰ زیږدیز کال کې د پام وړ کم شوی ؤ چې اصلي لاملونه یې د انفلاسیون د نرخ کنټرولول او د کورنیو پیسو د ارزښت زیاتیدل ګڼل کیږي. د یادونې وړ ده چې د ملي پیسو د ارزښت زیاتیدل د ډالرو د له منځه وړلو تر ټولو ستر لامل ګڼل کیږي.

د کورنیو پیسو لپاره د بازار جوړیدل او پرمختیا د دې لپاره اړینه ده چې په دوامدره توګه د ډالري اقتصاد د له منځ وړلو په موخه د اسعارو د مالي نه مداخلې له امله لګښتونه راکم کړي. په ورته وخت کې د ډالري اقتصاد د له منځه وړلو لپاره باید په دوامداره توګه احتیاطي مقررې د کورنیو پیسو له پراخو ابزارونو سره یو ځای شي. په دا ډول سناریو کې د ملي پیسو لپاره د بازار جوړول او پراخول د کورنیو پیسو د ابزارونو د ډولونو د زیاتولو او همدا ډول د امریکایي ډالرو په وړاندې د کورنیو پیسو د ارزښت د زیاتیدو دنده لوبوي. نړیوالې تجربې ښکاره کوي چې د ډالرو د له منځه وړلو په پروسه کې د پور ورکړې بهیر د پانګه ایز بازار د پراختیا په مرسته ملي پیسو او په ځانګړې توګه د اوږد مهاله پور پاڼو صادریدو ته اسانه شوی دی. همدا ډول د بولیویا، پیرو او یوروګوای هېوادونو په ملي پیسو باندې اسمي پور پاڼې معرفي کړي چې د سر رسید موده یې له لسو کالو زیاته ده چې دا کار داخلي ګټه د پام وړ زیاتوي او په کورنیو پیسو باندې د بانکي تمویل او د اوږد مهاله پور د بیو ټاکنو پروسه ګړندۍ کوي. په (۲۰۱۰) کال کې د اسکریبانو لخوا په لاتیني

امریکې کې د ډالرو د له منځه وړلو د عواملو په اړه ترسره شوې څېړنیزه شننه ښکاره کوي چې په اوږد مهاله توګه د پور پاڼو په صادرولو سره، په ډالرو د پور ورکړې کچه په حیرانوونکي توګه راکمه شوې ده، حال دا چې د اوږد مهاله پور پاڼو په صادریدو سره د ډالري امانتونو په کموالی کې هیڅ بدلون راغلی نه دی. د ډالري اقتصاد د له منځه وړلو په اړه په ۲۰۱۲ کال کې د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) خپور شوی راپور ښکاره کوي، هغه هېوادونو چې د ډالرو د له منځه وړلو بهیر یې په بریالیتوب سره ترسره کړی، اوس مهال ښه لوی اقتصاد، د اقتصادي ودې لوړه کچه، ښه مالي او بهرنی بیلانس لري او هر کال په دوامدره توګه له کمي پورونو څخه د هغو هېوادونو په پرتله چې په خپل اقتصاد کې د ډالرو د له منځه وړلو په هڅه کې بریالي نه دي، کار اخلي. دا راپور زیاتوي چې په بریالیو هېوادونو کې د انفلاسیون نرخ په اوسط ډول له ۱۴ سلنې څخه ښکته ساتل شوی او د مبادلې نرخ یې هم ثابت پاتې شوی دی. که څه هم نا بریالي هېوادونو په دوامداره توګه د انفلاسیون لوړ نرخ او د مبادلې ټیټ نرخ تجربه کړی دی. د دې راپور پر بنسټ کولای شو ووایو چې د لوی اقتصاد ثبات ممکن د ډالرو د له منځه وړلو تر ټولو لوی عامل وي. د لوی اقتصاد له دوامداره ثبات پرته کېدای شي د ډالرو د له منځه وړلو هڅې معکوسه اغېزه ولري او د نامطلوبه پایلو د رامنځته کولو ترڅنګ په ټول اقتصاد باندې منفي اغېزې وکړي.

**پایله**

ډالري اقتصاد په افغانستان کې کومه نوې پدیده نه ده. د مبادلې د وسیلې او د ارزښت د زیرمه کولو په موخه د هېوادوالو لخوا د بهرنیو اسعارو پراخه کارونه آن د کورنیو جګړو پرمهال پیل شوې ده. په ملي پیسو باندې د ډاډمنتیا کموالی هغه لامل دی چې په هېواد کې یې د ډالري اقتصاد پراختیا ته لاره هواره کړې او همدا ډول اوږد مهاله سیاسي او امنیتي ګډوډي، د لوی اقتصاد د ستراتیژیک مدیریت نشتوالی، په تېرو کلونو کې د انفلاسیون لوړوالی او د مبادلې د نرخ د شدیده نوسانونو په ګډون یو شمېر نورو بنسټیزو لاملونو په

ملي پیسو د باور کچه راکمه کړې ده.

همدا ډول د ډالري بهیر له کمیدو سره سره اوس هم اسعاري امانتونه د هېواد په بانکي نظام کې د ټولیزه امانتونو شاوخوا ۶۶ سلنه جوړوي، چې دې شمېرې/ سلنې افغانستان په نړیواله کچه د لوړ ډالري اقتصاد لرونکو هېوادونو په ډله کې راوستی دی. د اټکل له مخې، په ګردښت کې د بهرنیو اسعارو تر ټولو لوړه ونډه شاوخوا ۴۷۴ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې په ګردښت کې د ملي پیسو د اوسنۍ ونډې نږدې درې برابره جوړوي.

د ډالري اقتصاد د بیلابیلو اړخونو تر څېړلو او د افغانستان په شان په نسبتاً کوچنۍ او پرانیستي اقتصاد کې د هغه د لګښتونو او ګټو تر ارزولو وروسته مونږ دې پایلې ته رسېږو چې ډالري اقتصاد زمونږ اقتصاد لپاره ارزښتناکه او اغیزمن دی. په ورته وخت کې د ډالري اقتصاد اړوند لګښتونه لکه د اسعارو نه مطابقت، د بانکنوټونو د چاپ زیانونه او د پولي سیاست نا اغیزناکي چې د ګټې په پرتله یې زیان ډېر وي، د پام وړ زیات دي. له همدې امله، مونږ د یو لړ پالیسیو د جوړېدو چې د ډالرو د له منځه وړلو اقتصادي، مقرراتي او اداري اړخونه تر پوښښ لاندې ونیسي، وړاندیز کوو چې د هغه په تطبیقولو سره به په هېواد کې د ډالرو د له منځه وړلو بهیر په دوامداره توګه وساتل شي.

د ډالرو د له منځه وړلو په برخه کې نړیوالې تجربې ښکاره کوي چې په دوامداره توګه د ډالرو د له منځه وړلو لپاره کومه لنډمهاله او اسانه لاره شتون نه لري. په ټولیزه توګه، هغه هېوادونو چې په دوامداره توګه د ډالرو د له منځه وړولو پر وړاندې یې د بازار له لارې مبارزه کړې، د هغو هېوادونو په پرتله چې د ډالرو په له منځه وړلو کې یې له اداري فشار څخه کار اخیستی دی، ډېر بریالي دي. مونږ باید په دې پوه شو چې د ډالرو له منځه وړل یوه اوږده پروسه ده او دې کار لپاره د لوی اقتصاد ثبات یو اړین شرط ګڼل کیږي. تر څو چې مونږ د خپل اقتصاد اوسنۍ او ژورې جوړښتیزې کمزورتیاوې حل نه کړو، تر هغې پورې نه شو کولای په دې برخه کې کومه مطلوبه پایله ولرو. له همدې امله، مونږ په دې

اند یو چې د لوی اقتصاد ثبات او قانوني سمونونه له ډالرو سره په ټینګې مبارزې کې اړین شرطونه ګڼل کیږي.

ملپاڼې:

(په افغانستان کې په ګردښت کې د پیسو د کچې اټکل)

- د پیسو د عرضې د فورمول په کاروني سره ملي پیسو لپاره د پولي ضریب ترلاسه کول (mm)
- د پیسو عرضه = په ګردښت کې پیسې (CiC) + ټولیزه امانتونه
- پولي زیرمې = په ګردښت کې پیسې (CiC) + له د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو امانتونه

MM= Ms/R

MML = (CiC + TD)L/ (CiC + R)L

MML = (175,800 + 70,528)L/ (175,800 + 21,634)L = 1.25

د افغانۍ او اسعارو د ضریب د ترلاسه کولو فرضیه

MMF = (CiC + TD)F/ (CiC + R)F= 1.25

CiCF= [(mmF+ RF) – TDF]/(1- mF)]

په ګردښت کې اسعارو = ۴۶۷ میلیارده افغانۍ

⇦ د بانکنوټونو د چاپ لګښت: د ۳۰ میلیارده افغانیو چاپول شاوخوا ۱ میلیارده افغانۍ لګښت لري.

د بانکنوټونو د ضریب خسارې ( په لوړه کچه): شاوخوا ۴۶۰ میلیارده افغانۍ دی.

مأخذونه:


- Balino, Tomás, Adam Bennett, and Eduardo Borensztein (1999), "Monetary Policy in Dollarized
- Economies", International Monetary Fund.
- Ize, A. and E. Levy-Yeyati (2003) "Financial Dollarization", Journal of International Economics,
- forthcomming
- Ize, A. and E. Levy-Yeyati (1998) "Dollarization and Financial Intermediation: Causes and Policy
- Implications". IMF Working Paper 98/22.
- Escribano, M. and S. Sosa (2010) "What is Driving Financial De-dollarization in Latin America?". IMF
- Working Paper.
- Mecagni, M. et al (2012) "Dollarization in Sub-Saharan Africa Experience and Lessons". IMF African
- Department.
- Azeema Adam, *Dollarization in a Small Open Economy- The Case of Maldives*, World Review of Business
- Research, Vol. 3. No. 3. July 2013 Issue
- Panteleo Kessy, *Dollarization in Tanzania: Empirical Evidence and Cross-Country Experience*, Working
- Paper 11/0251, April 2011, International Growth Centre
- Mercedes Garcia-Escribano, *Peru: Drivers of De-dollarization*, International Monetary Fund, July 2010
- Mercedes Garcia-Escribano and Sebastian Sosa, *What is Driving Financial De-dollarization in Latin*
- *America?*, IMF Working Paper WP/11/10, January 2011
- Angel Garcia Banchs, *Partial Dollarization: A Currency-Matching Rule And Its Implication for Monetary*
- *Policy and Welfare,* University of Warwick
- Guillermo Felices et al., *Monetary Policy in a Dual Currency Environment*, August 2010
- Anne-Marie Guide, Alain Ize, et al., *Financial Stability in Dollarized Economies*, July 2004

- Jiro Honda and Liliana Schumacher, *Adopting Full Dollarization in Postconflict Economies: Would the*
- *Gains Compensate for the Losses in Liberia?* , IMF Working Paper, WP/06/82, March 2006
- Patricia Alvarez-Plata and Alicia Garcia-Herrero, *To dollarize or de-dollarize: Consequences for Monetary*
- *Policy*, ADB, September 2007
- Nombulelo Duma, *Dollarization in Cambodia: Causes and Policy Implications*, IMF Working Paper,
- WP/11/49, March 2011
- Myriam Quispe-Agnoli et al., *Costs and Benefits of Dollarization*, July 2002
- Hale E. Sheppard, *Dollarization of Ecuador*,
- Benjamin J. Cohen, *Dollarization: Pros and Cons*, Department of Political Science, University of California at Santa Barbara, May 2000

info@dab.gov.af
0093 0202104761
Da Afghanistan Bank-Youtube
www.dab.gov.af
www.facebook.com/AFGCentralbank
twitter.com/AFGCentralbank